بسم الله الرحمن الرحیم

# جریده میـــزان

قـــوهٔ قضائیه

د ستري محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی
عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېرى ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

یک شنبه ۱۴ زمری ۱۴۰۳ هـ ش | ۲۹ محرم الحرام ۱۴۴۶ هـ ق | ۴ اګست ۲۰۲۴ م | مسلسله شمېره (۷۲)

## د ستري محکمې له نظامي معاون محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب سره د نظامي محاکمو په اړه ځانګړې مرکه

* شيخ صاحب د ستري محکمې د اسلامي عدالت خپرونې ته درته هر کلي او ښه راغلاست وايو او ډېره زياته مننه کوو چې له ډيرو مصروفيتونو سره سره مو موږ ته د دې مرکې لپاره وخت راکړی دی.

* الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام علی خير خلقه محمد وعلی آله وصحبه اجمعين و بعد: له تاسو هم مننه کوم چې د ستري محکمې د نظامي محاکمو په اړه هيوادوالو ته د معلوماتو ورکولو په موخه له موږ سره مرکه کوی.

**۱. پوښتنه:** د ستري محکمې د نظامي محاکمو د تشکيل په اړه که لنډ معلومات راکړئ؟

**ځواب:–** اوس مهال د نظامي محاکمو (۸) رياستونه دي، د کابل زون رياست، د کندهار زون رياست، د هرات زون رياست، د پکتيا زون رياست، د غزني زون رياست، د ننګرهار زون رياست، د کندوز زون رياست، د بلخ زون رياست او د يادو شوو نظامي محاکمو پنځه استيناف دي په پنځو زونونو کې: هرات، کندهار، کابل، ننګرهار، بلخ البته د غزني زون استيناف دکندهار په مرافعه کې د ديوان په شکل موجود دی، د پکتيا زون استيناف د کابل زون په مرافعه کې دی، د کندز زون استيناف د بلخ زون په مرافعه محکمه کې دی او دوه تميزونه لري يو په کندهار او بل په کابل کې دي.

**۲.پوښتنه:** په هيواد کې د نظامي محاکمو د څانګو په اړه که زموږ له لوستونکو سره معلومات شريک کړئ.

**ځواب :** د نظامي محاکمو د (۸) زونونو په بېلا بېلو ولايتونو لکه: بادغيس، فراه، نيمروز، هلمند، ارزګان، زابل، باميان، پکتيکا، خوست، کنړ، لغمان، بدخشان، بغلان، جوزجان، فارياب او پروان کې (۱٦) څانګې دي او يوه فوق العاده څانګه د رياست (۰۴۰) د کابل کې بنديانو لپاره ده.

**۳. پوښتنه:** دا چې محاکم د نظام او دولت مهمه قوه ده نو د ستري محکمې په تشکيل کې د نظامي محاکمو رول او ارزښت څومره اړين دی؟

**ځواب:** د نظامي محاکمو ارزښت د ستري محکمې په تشکيل کې خورا ډېر مهم دی؛ ځکه د نظام قيام تقريباً د دفاع وزارت، دکورنيو چارو وزارت او د استخباراتو رياست پر ارګانونو موقوف دی او د دغه درې ارګانونو د منسوبينو اصلاح او کنټرول په نظامي محاکمو کيږي.

**٤. پوښتنه:** د نظامي محاکمو په موجوديت سره ترکومې اندازې د ظلم او فساد مخه نيول شوې ده؟

**ځواب :** الحمدلله د افغانستان اسلامي امارت محاکمو د قوي مديريت او پر ټاکلي وخت د لازمو اجراآتو په نتيجه کې په ټول هيواد کې د ظلم او فساد مخه نيولې ده، په ځانګړې توګه په لويه کچه د ظلم او فساد مخنيوي د نظامي محاکمو په برکت شوی دی.

**۵. پوښتنه:** که د نظاميانو د اصلاحاتو برخه کې د نظامي محکمې پر رول او ارزښت راته معلومات راکړئ؟

**ځواب:** د نظامي منسوبينو د اصلاح په برخه کې د نظامي محاکمو رول او ارزښت ډېر روښانه او مهم دی؛ ځکه د نظاميانو اصلاح تقريباً د ټول نظام اصلاح ده، او اصلاح معمولا هغه مهال شونې او ممکنه ده چې مجازات او مکافات موجود وي، دا چې نظامي منسوبينو ته مجازات يوازې د نظامي محاکمو له خوا ورکول کېدای شي په دې اساس ويلای شو چې نظامي محاکم د نظاميانو يا په ټوله کې د نظام د اصلاح لپاره ډېر مهم رول لري؛ دا ښکاره خبره ده که مجازات نه وي نو وظيفه او اسلحه ځينې وخت سبب د ظلم جوړېداشي.

**٦. پوښتنه:** نظامي محاکمو ته کوم کسان مراجعه کوي يا راغوښتل کيږي؟

**ځواب:** که مدعي او مدعی عليه دواړه نظاميان وه او يا يوازې مدعی عليه نظامي کس وو او يا مدعی عليهم متعدد اشخاص وو؛ خو په دوی کې يوکس نظامي وو بيا يې دوسيه د نظامي محکمې مربوط ده او يادشوي اشخاص به نظامي محکمې ته راجلب کيږي.

يادونه: نظاميان هغه څوک دي چې د درېيو ارګانو د يوه ارګان (دفاع وزارت، کورنيو چارو وزارت او د استخبارات لوی رياست) څخه وي د خصومت په وقت کې.

**۷. پوښتنه:** ايا نظامي محاکم هم د ملکي محاکمو په شان درې مرحلې لري؛ که د دغه پروسې په اړه راته وضاحت راکړئ؟

**ځواب:** هو نظامي محاکم هم د نورو ملکي محاکمو په شان درې مرحلې يعنې ابتدائيه، مرافعه او تميز لري؛ البته د نظامي محاکمو حکم په تعزيراتي فيصلو کې قطعی دی مرافعه او تميز نه لري.

**۸. پوښتنه:** دستري محکمې د نظامي محاکمو د تفتيش بهير په اړه که معلومات راکړئ؟

**ځواب:** نظامي محکمې دعامو محاکمو په شان د ستري محکمې قضائي تفتيش تر څارنې لاندې دي خو ځانګړی تفتيش نه لري.

**۹. پوښتنه:** ايا له فتحې وروسته د نظامي محاکمو د رهبرۍ له خوا ولايتي څانګو ته سفرونه ترسره شوي؟ که ځواب مو هو وي نو د دغه سفرونو د موخو او لاسته راوړنو په اړه خلاصه معلومات راسره شريک کړئ؟

**ځواب:** هو تر فتحې وروسته نظامي معاونيت دوه ځله ولايتونو ته سفرونه وکړل؛ په لومړي سفرکې يې هدف د هغو ولاياتو ليدنه وه په کومو کې چې نظامي څانګې جوړېدې، د هغو ولايتونو د استيناف له رئيسانو او د اتو(۸) زونونو د نظامي محاکمو د رئيسانو سره يې د علماوو په تعين کې مشوره کوله.

په دوهم سفر کې هدف د هغه تعين شوو علماء کرامو څخه د ازموينې اخيستل وو.

**۱۰. پوښتنه:** که په وروستيو کې عام ولس ته کوم پيغام لرئ نو د مهربانۍ له مخې يې راسره شريک کړئ؟

**ځواب:** دا چې الله تعالی پر افغانانو رحم وکړ، د اولس د بې ساري قربانيو او هڅو په برکت يې هيواد کې اشغال ختم او اسلامي نظام يې حاکم کړ او د دغه نظام د حاکميت په برکت يې په افغانستان کې د ټولو بدبختيو، ظلم، فساد، زورواکۍ، غلا، ناامنۍ او نورو بدبختيو او مشکلاتو تغر ټول کړ؛ نو عام اولس ته مو پيغام دا دی چې په خپل اسلامي نظام دې مطمئن شي، د دغه نظام شکر دې اداء کړي ځکه د نعمت د ناشکرۍ په صورت کې خدای مه کړه الله تعالی له خپلو بندګانو ورکړی نعمت بېرته اخلي، د خپل اسلامي نظام هر اړخيز ملاتړ دې وکړي، د محاکمو عموماً او د نظامي محاکمو دې خصوصاً احترام وکړي او د بېځايه تهمتونو څخه دې په کلکه اجتناب وکړي.

## خوست ولايت کې (۹) مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د خوست ولايت د ښاري ابتدائيه محکمې د جزا او عامه امنيت ديوانونو د پرېکړو په اساس نهه (۹) تنو ته د غلا، نامشروع اړيکو، فريبکارۍ، رشوت او شراب خرڅولو په جرم په ۲۶/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزيري سزا ورکړل شوه. ابتدائيه محکمې د يادو کسانو له ډلې دوه مجرمين پر ۱۸ مياشتو تنفيذي بند او (۳۹) دُرو تعزيري سزا، يو مجرم پر درې کاله تنفيذي بند او (۳۹) دُرو تعزيري سزا، يو مجرم پر يوه کال تنفيذي بند او (۳۵) دُرو تعزيري سزا، يو مجرم پر يوه کال تنفيذي بند، يو مجرم پر يوه کال تنفيذي بند او (۳۹) دُرو تعزيري سزا، يو مجرم پر دوه کاله تنفيذي بند او (۳۹) دُرو تعزيري سزا، يو مجرم پر شپږو مياشتو تنفيذي بند او (۳۵) دُرو تعزيري سزا او وروستی مجرم پر (۳۹) دُرو تعزيري سزا محکوم کړی و. په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د خوست ولايت د مرافعه محکمې عمومي رئيس الحاج مولوي امين الله (منيب)، د ښاري ابتدائيه محکمې رئيس مولوي نقيب الله (ذاکر)، قضائي، نظامي منسوبينو او عام هېوادوالو ګډون درلود. ياده پرېکړه د ستري محکمې د عالي مقام له تائيد وروسته پر مجرمينو تطبيق شوه.

**په نبوي دوره کې دځينو قاضيانو يادونه:**

**اتمه برخه**

**۲-...معاذ بن جبل رضي الله عنه:**

د الله تعالی په مال کې معاذ بن جبل رضي الله عنه لومړی سوداګر و او پکښې بريالی هم شو، تر هغه وخته چې د خدای رسول صلی الله عليه وسلم رحلت وکړ، کله چې معاذ بن جبل رضي الله عنه راستون شو، نو عمر رضي الله عنه و ابوبکر رضي الله عنه ته وويل: د هغه سړي څنګ ته يې ولېږه او د ژوند د اړتيا وړ شيان ورته پرېږده او نور ټول ترې واخله؛ ابوبکر رضي الله عنه وويل: پيغمبر صلی الله عليه وسلم هغه لېږلی و او زه له هغه هيڅ شی نه اخلم، مګر په هغه صورت کې چې دی يې پخپله راکړي، کله چې ابوبکر رضي الله عنه له هغه څخه اطاعت ونکړ، نو عمر پخپله د هغه څنګ ته لاړ او موضوع يې ورسره شريکه کړه، معاذ: وويل پيغمبر (صلي الله عليه وسلم) زه هغه ځای ته لېږلی وم، ترڅو له غريبۍ خلاص شم او زه دا کار نه کوم.

اخذليک: تتمة النظام، ۴۳ صفحه، تألیف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## غزني ولایت کې یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د غزني ولایت د اندړو ولسوالی د ابتدائیه محکمې د پرېکړې په اساس په ۲۲/ ۱/ ۱۴۴۶هـ ق نېټه یو تن ته چې پر غلا متهم و؛ په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

د اندړو ولسوالی ابتدائیه محکمې یاد متهم په دوه کاله تنفیذي بند او ۳۵ دُرې تعزیري سزا محکوم کړی و؛ چې یاد حکم د غزني ولایت د مرافعه محکمې او د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهم تطبیق شو.

## د کونړ ولایت د پېچ درې ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په هڅو د قتل موضوع حل شوه

د کونړ ولایت د پېچ درې ولسوالی د وردېش په کلي کې د دوو کورنیو ترمنځ رامنځته شوې د قتل موضوع؛ د یادې ولسوالی د ابتدائیه محکمې د مسؤولینو، ولسوال او قومي مشرانو په منځګړیتوب په ۱۴/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه حل شوه او د دغه کورنیو ترمنځ دښمني په دوستۍ بدله شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د کونړ ولایت د مرافعه محکمې رئیس محترم الحاج مولوي عزیزالرحمن (حقاني)، د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس مولوي محمد ایوب (قلم)، د پېچ درې ولسوالی د ابتدائیه محکمې رئیس مولوي محیب‌الله، امنیه قوماندانۍ مسؤولینو، قومي مشرانو او سپین‌ږیرو ګډون درلود.

په غونډه کې د مرافعه او ښاري ابتدائیه محاکمو رئیسانو د غونډې ګډونوالو ته هر اړخیزې ویناوې وکړې، ولسونو ته یې ډاډ ورکړ او غوښتنه یې ترې وکړه چې د داسې موضوعاتو په اصلاحي ډول حل کې د خپل نظام سره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړئ.

د غونډې په دوام د ولسونو استازو په خپلو خبرو کې له اسلامي امارت څخه خپل بشپړ ملاتړ اعلان کړ، د محاکمو له لوري یې په داسې پرېکړو خوښي څرګنده کړه او د یادې ولسوالۍ له امنیتي مسؤولینو څخه یې له دې امله مننه وکړه چې موضوعاتو ته پر وخت رسېدنه کوي او د ستونزو په حل کې د چټک اقدامات ترسره کوي.

غونډه د ښاري ابتدائیه محکمې د رئیس په دعاء پای ته ورسېده.

## د قضائي تفتیش عمومي ریاست مفتشینو د غزني ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د قضائي پلټنې یوه ټاکل شوي پلاوي د سترې محکمې د محترم مقام په هدایت، د قضائي پلټنې د عمومي ریاست د مرستیال حافظ مولوي عبدالولي (محمود) په مشرۍ چې مولوي بخت الله (مدني) او مولوي امان الله (حامد) یې غړیتوب درلود، د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د ذوالحجة الحرام میاشتې په ۲۷مه نېټه د غزني ولایت محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړلو په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

دغه پلاوي د سفر او لیدنې په پیل کې د بندیانو ستونزو د څېړلو په موخه د یاد ولایت له مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه، د یاد محبس اړوند ټولو نارینه او ښځینه بندیانو یې په جلا، جلا ډول پوښتنه وکړه.

د سترې محکمې د عالي مقام لخوا ټاکل شوي پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د یاد ولایت د (۱۸) ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو، د ښاري او مرافعه محاکمو اړوند دیوانونو، د وثایقو آمریت او اختصاصي محکمې څخه په جلا، جلا ډول لیدنه وکړه.

یاد پلاوي د څارنې بهیر په ترڅ کې د غزني د محاکمو له قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخیزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات یې واخیستل او د چارو د سمون په برخه کې یې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

د قضائي تفتیش عمومي ریاست پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او لوژستیکي نیمګړتیاوې له ځان سره ولیکل او د لیدنې په وروستیو کې یې د ستونزو د حل، خنډونو د له منځه وړلو، د شته نیمګړتیاوو د اکمال په اړه د غزني ولایت د مرافعه او ښاري محاکمو له ټولو قضائي غړیو سره تفاهمي ناسته وکړه.

پلاوي د څارنې او لیدنې په دوام له ځینو ولایتي مسؤولینو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعالیتونو د لا ښه پرمختګ او د ځینو اړوند ستونزو د حل په موخه یې د هغوی نظرونه واورېدل.

یاد پلاوي د غزني ولایت د محاکمو پر وړاندې د شته ستونزو دقیقه او هر اړخیزه څېړنه وکړه.

د قضائي تفتیش د څارنې او پلټنې پلاوي یاد له لاسته راوړنو ډک (۲۲) ورځنی سفر د ۱۴۴۶ هـ ق کال د محرم الحرام میاشتې په (۱۹) مه نېټه پای ته ورسېده.

## د کابل ښار د اسنادو او وثایقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې (۱۵۶۵) جلده وثیقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د اسنادو او وثایقو د ثبت په شپږو آمریتونو کې له (۱۴۴۶/۱/۱ څخه تر ۱۴۴۶/۱/۱۵ هـ ق) نېټې پورې د اجرا شویو وثایقو تفصیل په لاندې ډول دی:

**۱. د اسنادو او وثایقو د ثبت لومړۍ حوزه:**

د اسنادو او وثایقو د ثبت لومړۍ حوزې په دوو اونیو کې (۱۴۲) جلده نکاح خطونه، (۲۸) قطعې زوجیت خطونه او (۷۴) قطعې نورې ببلا، ببلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۲. د اسنادو او وثایقو د ثبت دویمه حوزه:**

د دوو اونیو په ترڅ کې د اسنادو او وثایقو د ثبت په دویمه حوزه کې (۱۱۹) جلده نکاح خطونه، (۳۴) قطعې زوجیت خط او (۷۰) قطعې نورې ببلا، ببلې وثیقې اجرا شوې دي.

**۳. د اسنادو او وثایقو د ثبت دریمه حوزه:**

د دوو اونیو په ترڅ کې د اسنادو او وثایقو د ثبت په دریمه حوزه کې (۳۱۹) جلده نکاح خطونه، (۲۶) قطعې زوجیت خطونه او (۵۵) قطعې نورې ببلا، ببلې وثیقې اجراې شوې دي.

**۴. د اسنادو او وثایقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د دوو اونیو په ترڅ کې د اسنادو او وثایقو د ثبت په څلورمه حوزه کې (۱۵۶) جلده نکاح خطونه، (۹) قطعې زوجیت خطونه او (۶۵) قطعې نورې ببلا، ببلې وثیقې اجرا شوې دي.

**۵. د اسنادو او وثایقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د دوو اونیو په ترڅ کې د اسنادو او وثایقو د ثبت په پنځمه حوزه کې (۸۸) جلده نکاح خطونه، (۲۹) قطعې زوجیت خطونه او (۵۴) قطعې نورې ببلا، ببلې وثیقې اجرا شوې دي.

**۶. د اسنادو او وثایقو د ثبت شپږمه حوزه:**

د دوو اونیو په ترڅ کې د اسنادو او وثایقو د ثبت په شپږمه حوزه کې (۲۲۷) جلده نکاح خطونه، (۱۴) قطعې زوجیت خطونه او (۵۶) قطعې نورې ببلا، ببلې وثیقې اجرا شوې دي.

## د ننګرهار محاکمو په دوو اونیو کې (۴۶۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۲۹) وثیقې یې هم اجرا کړې دي

د ننګرهار ولایت مرافعه محکمې، وثایقو، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۱۴۴۶/۱/۱هـ ق څخه تر ۱۵/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۴۶۷) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۲۲۹) وثیقې یې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۸۶) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۱۲۴) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۰) دوسیې فیصله شوې، (۳۰) دوسیې مکتوبې اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۴۱) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۲۰) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۶۰) دوسیې فیصله شوې،(۱۵) دوسیې مکتوبې اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۶۵) تجارتي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۴۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۰) دوسیې فیصله شوې، (۱۱) دوسیې مکتوبې اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۲۲۹) ببلا ببلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د کابل ابتدائیه محکمې اړوند څلور زونونو په دوو اونیو کې (۸۰۱) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ښار د ابتدائیه محکمې اړوند څلور زونونو په دوو اونیو کې په جزائي، حقوقي او تجارتي برخو کې د ۱/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه څخه تر ۱۵/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټې پورې (۷۶۸) دوسیو ته رسېدنه کړې ده، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**۱ - په جزائي برخه کې:**

د کابل د ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۴۲۹) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۴۴) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۹۳) دوسیې فیصله شوې،(۴۸) دوسیې مکتوبې اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۲. په حقوقي برخه کې:**

د کابل د ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۲۲۵) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۱۹۱) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۲) دوسیې فیصله شوې،(۴۸) دوسیې مکتوبې اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۳. په تجارتي برخه کې:**

د کابل ښار د ابتدائیه محاکمو څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۱۴۶) تجارتي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۱۴۵) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۴) دوسیې فیصله شوې،(۲۶) دوسیې مکتوبې اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## محاکم غزنی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۳۸) دوسیه، به تعداد (۱۹۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غزنی، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۷۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۳۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۴) دوسیه فیصله شده، (۱۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۲) دوسیه فیصله شده، (۱۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۱۹۴) قطعه وثایق مختلف النوع را نیز اجرا گردیده‌است.

## د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۴۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۷۸) وثیقې هم اجرا کړې دي

د زابل ولایت د مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، نظامي محکمې او ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۱/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۱۵/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۱۴۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۷۸) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۱۵۹) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۰) دوسیې فیصله شوې، (۱۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۳۷) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۴) دوسیې فیصله شوې، (۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۷۸) وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم هرات طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۶۰۶) دوسیه، به تعداد (۶۳۸) قطعه وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت هرات، دواوین محکمهٔ مرافعهٔ، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش های حقوقی، تجارتی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۷۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۲) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۶۹) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۶۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۷) دوسیه فیصله شده، (۲۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۶) دوسیهٔ تجارتی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۹۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۷) دوسیه فیصله شده، (۹۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت هرات به تعداد (۶۳۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم دایکندی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۸۰) دوسیه، به تعداد (۸۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت دایکندی، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۴/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۶) دوسیه فیصله شده، (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۹) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰) دوسیه فیصله شده، (۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت دایکندی به تعداد (۸۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د بلخ محاکمو په دوو اونیو کې (۴۷۸) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۳۱) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، د بلخ زون نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۷/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټې څخه تر ۱۹/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۴۷۸) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۳۱) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۳۶۷) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۶۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۰۷) دوسیې فیصله شوې، (۴۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۶۱) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۶۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۱) دوسیې فیصله شوې، (۱۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۲۵۰) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم بادغیس طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۵۷۹) دوسیه، به تعداد (۲۴۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بادغیس، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱۵/ ۱۲/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۵/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۳۹۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۱۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۱) دوسیه فیصله شده، (۲۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۲۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۱۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۲۲) دوسیه فیصله شده، (۲۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

از آن جمله (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۸۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۲) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بادغیس به تعداد (۲۴۱) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم سرپل طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۲۵۹) دوسیه، به تعداد (۱۶۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت سرپل، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۱۲/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۴/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۳۳) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۱۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۰) دوسیه فیصله شده، (۳۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۰۵) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۷) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت سرپل به تعداد (۱۶۲) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

سرپرست مسؤول مدير: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اډيټور: جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندويه خپرونه
په مياشت کې درې ځله چاپيږي

## د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس د پکتيکا ولايت له ټولو مسؤولينو سره وکتل



د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (درويش) چې محترم مفتي عبدالحی (شاکر) يې ملتياکوله، پرون چهارشنبه (۱۸/محرم الحرام/۱۴۴۶ هـ ق) نېټه د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) په ځانګړي هدايت پکتيکا ولايت ته سفر وکړ. پکتيکا ولايت ته د جزا دېوان د عمومي رئيس د سفر عمده موخه د والي صاحبانو په ګډون له ټولو ولايتي مسؤولينو سره د همغږۍ ناسته، د ولايتي ادارو ترمنځ د همغږۍ د لا ډېرې پياوړتيا، جرايمو د مخنيوی، حق حقدار ته د سپارلو او ولس ته د غوره خدماتو ترسره کولو په تړاو له ولايتي مسؤولينو سره خبرې کول وه. محترم مفتي عتيق الله (درويش) ياد ولايت ته د سفر پر مهال د والي صاحب په ګډون له ټولو ولايتي اداري مسؤولينو سره د همغږۍ ناسته وکړه، د غونډې ګډونوالو ته يې د عدالت د تأمين، دايمي امنيت، له مظلوم سره همکارۍ او د هغه فرياد اورېدلو، د فساد مخنيوي او د ولايتي ادارو ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ پر لارو چارو خبرې وکړې. نوموړي د پکتيکا ولايت محترم والي، امر بالمعروف، د علماوو شورا او اړوند نورو مسؤولينو ته هدايت وکړ چې هڅه وکړي د خلکو ترمنځ جنجالونه په داسې ډول د سولې له لارې حل او فصل کړئ چې له شريعت سره ټکر ونه لري. د جزا دېوان عمومي رئيس د غونډې ګډونوالو ته وويل، د اسلامي نظام مسؤوليت دی چې عدالت تأمين کړي، د اسلامي نظام د حاکميت پر مهال هېڅوک جرئت نشي کولای چې پر مظلوم ظلم وکړي؛ که فرضاً څوک ظلم وکړي نو د اسلامي نظام مسؤولين به يې د اسلامي شريعت مطابق مجازات کوي او د مظلوم لاس نيوی به کوي. محترم مفتي عتيق الله (درويش) زياته کړه، د اسلامي نظام تر چتر لاندې د ټولو ادارو مسؤولين بايد د اړتيا پر مهال له يو بل سره د اصولو په رڼا کې پوره همکاري وکړي، د دوی ترمنځ بايد همغږي دومره قوي وي چې دښمن په هېڅ صورت په کې د جرم ترسره کولو فرصت پيدا نه کړي. دغه راز نوموړي وويل، پر موږ ټولو مسؤولينو او منسوبينو لازمه ده چې د اسلامي شريعت په رڼا کې د خپل ځورېدلي ولس خدمت وکړو، د دوی ستونزې او فرياد واورو او په کم وخت کې يې ستونزو ته رسېدنه وکړو. دغه راز په غونډه کې د ولايتي ادارو مسؤولينو هم په خپل وار د همغږۍ د تقويې، اسلامي نظام پر ګټو او مسؤوليتونو او نورو اړينو مواردو تفصيلي خبرې وکړې او له يو بل سره يې نظرونه او وړانديزونه شريک کړل، ژمنه يې وکړه چې تر خپلې وسې به د ولس خدمت کوي، له يو بل سره به د اصولو مطابق پوره همکاري کوي. د يادونې وړ ده چې د جزا دېوان عمومي رئيس له دې مخکې د هېواد ۲۰ نورو ولايتونو ته هم سفرونه کړي او د ټولو ولايتونو له مسؤولينو سره يې د همغږۍ ناستې ترسره کړې دي.

## محاکم ولایت کندز طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۷٦۳) دوسیه، (٦۹۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

گزارش اجراآت برج سرطان سال ۱٤۰۳ هـ ش محاکم مربوط ریاست عمومی محکمۀ مرافعۀ کندز به شرح ذیل مواصلت ورزیده‌است:

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۳۸۳) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه از قبل نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در مورد (۱٦۷) دوسیه طی قرار قضائی اجراآت بعمل آمده، (۱٤۱) دوسیه فیصله شرعی شده، به تعداد (۱۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقیمانده تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**


در جریان یک ماه به تعداد (٤۸۳) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه از قبل نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در مورد (۳۲۰) دوسیه طی قرارقضائی اجراآت بعمل آمده، (۹۷) دوسیه فیصله شرعی شده، به تعداد (۲۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقیمانده تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در مدت ذکرشده به تعداد (٦۹۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است.




میزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټليفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳٦۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲٦۳